محترمو لوستونکيو!

ادبي سوغات چې د استاد سرمحقق ع. ب خدمتګار په زيار راټول شوی او الفت اکاډمۍ نشر ته سپارلی، ستاسې مخې ته ږدو امید لرو چې د ادب مینان به يې په لوستلو خپله ادبي تنده ماته کړي.

همدا راز د رحمان بابا دغه شعر يو ځل بيا د پښتو ژبې ادیبانو ته د اقتفا او پيرو لپاره له دې هيلې سره وړاندې کوو چې زمونږ ځوان شاعران به د خپلو لويو استادانو په پله پل کيږدي. ټول هغه دوستان چې ددې شعر په پيرو کې ليکنې کوي، خپل اشعار مونږ ته په لاندې آدرس رالېږلائ شي

webmaster@hewad.com.

نور مو وخت نه نيسو دا تاسې او دا هم ستاسې ادبي سوغات.

ستاسې شعرونو ته سترګې په لار
د "هيواد" مسئوله ډله



Download from:aghalibrary

اباسین

ادبي سوغات

د


سرمحقق عبدالله جان بختاني خدمتګار

تولونه، سريزه او يادونې

محرم الحرام ۱۴۲۳

Download from:aghalibrary

اباسين



د مجموعې پېژندنه

نوم:	ادبي سوغات
ټولونه، سريزه او يادونې:	د سرمحقق خدمتګار
ناشر:	الفت اکاډمي
مهتمم:	عبدالرحيم بختانی
کمپوز:	شفق
دچاپ نېټه:	مارچ ۲۰۰۲ م
دچاپ ځای:	دانش کتابتون
شمير:	يو زر نسخې

Download from:aghalibrary

اباسين



بســـــــم الله الرحمـــــن الرحـــيم



Download from:aghalibrary

اباسین

اهداء:

دفلسفي سياسي دقيق نظر خاوند
دانشمند ليکوال او متفکر شاعر
جناب محترم سيد شمس الدين مجروح ته.

په درناوي
ع - خدمتګار بختانی

اباسين

ګرانو لوستونکو!

ددې مجموعې حجم ډیر وړوکی دی، مګر په معنوي لحاظ ډیر لوی او لوړ ارزښت لري.

دا چې مشر مجروح صاحب د رحمان بابا د شعر په زمکه غزل لیکي، الفت صاحب پرې مشاعره جوړوي، حمزه صاحب یې رنګ او خوند زیاتوي، نور تکړه شاعران پکښې برخه اخلي او بیا بختانی صاحب ترې د ګلو ګیډۍ جوړوي او د خپرولو لپاره یې ځولۍ غوړوي دا پخپله لوی ارزښتمن کار او لویه خبره ده.

ښایي چې اهل نظر ورته په درانه نظر وګوري، دعالي ذوق خاوندان ترې خوند واخلي او د ادب مئینان یې قدرداني وکړي.

په خپل وار، مونږ په ډیره خوشحالئ، په دې ګلورین پسرلي کښې، د ادب دا رنګینه پانه، د مشرانو دا رنګین سوغات د هیواد د رنګارنګو ګلونو له خوږو وږمو سره یو ځای خپروو او وایو:

الله پاک دې سرمحقق خدمتګار ته د نورو فرهنګي خدمتونو له زیات توفیق سره خیر او برکت ورکړي. آمین

میرویس الفت

الفت اکاډمي – د ۱۳۸۰ د حوت ۲۱ مه

اباسین

دوه درې خبرې

۱ – له نن څخه شپاړس کاله د مخه، ما پر دې (ادبي سوغات) لنډه سریزه ولیکله. د افغانستان د لیکوالو ټولنې ته مې وړاندې کړه. ټولنې فیصله وکړه چې د (ژوندون) مجلې د هدیې په توګه دې چاپ شي مجموعه دولتي مطبعې ته ولاړه مګر ډیر افسوس چې د مجلې یا انجمن د ځینو کارمندانو د سبوتاژ لامله د انجمن رسمي فیصله عملي نه شوه. په داسې حال کښې چې زه پخپله د همدغې ټولنې د ریاست لومړی مرستیال او منشي هم وم .....

۲ - له نن څخه اوه کاله د مخه، د ۱۳۷۳ هجري شمسي کال د جدي په ۲۷ ، زه په پیښور کې وم. د بي بي سي د ډرامو دفتر ته ورغلم چه افغاني لیکوال شاعران یاران دوستان وګورم. د پوهنتون د ادبیاتو د پوهنځي پخوانی استاد ښاغلی عبدالخالق رشید ، چه نوی مهاجر شوی و ، هم هلته کار کاوه. ما سره یې (ادبي سوغات) ولید ، خوښ یې شو ، له ما څخه یې واخست، ویل یې: زه دا چاپوم. ما ترې فوتوکاپي واخسته. راغلم. بیا اوړی کابل ته ولاړم. هلته خبر شوم چه استاد رشید کابل ته راغلی او بیا هندوستان ته ځي. د ډیلي د جواهرلعل نهرو په نامه د پوهنتون د پښتو ژبې او ادبیاتو استاذ شوی دی. هغه ما ونه لیدی شو او ولاړ. تر اوسه یې کوم خط خبر نه دی راغلی او لا نه پوهیږم چه مجموعه یې ورکه کړې؟ ساتلې؟ او که چاپ کړې ده.

۳ - د ۱۳۸۰ هـ ش دحوت په ۲۰۵ ورځو کښې، د ۱۴۲۲ هـ ق د لوی اختر ورځې وې، زورور بارانونه وریدل، ما په کور کښې په خپلو زړو کاغذونو ګوتې وهلې هغه فوتوکاپي مې ترلاس شوه، ډیره تته وه او د لوستلو نه وه ما له سره ولیکله او د چاپولو په فکرکښې یې شوم.

پرون، ښاغلي مییرویس الفت ته مې دا کیسه وکړه هغه په ورین تندي وویل: "بې غمه اوسه!".

- ښایې چه ګران لوستونکي، ددې لنډ داستان په نتیجه کښې، دې ته هم رسیدلي وي چې دلته دیوکوچني اثر چاپول څومره ستونزې لري؟ اوددې له مخه مونږ د تاریخ په کوم کولتوري معیار کې واقع یو؟

فاعتبروایااولی الالباب

خدمتګار بختانی

بختان کلی – د ۱۳۸۰ دحوت شلمه

اباسین

ادبي سوغات

دپښتو ډير ښاغلي او منلي شاعران تير شوي دي چې د پښتو ادب ارزښتمنه خزانه يې د خپلو شعرونو په مرغلرو لا ښائسته او بډايه کړې ده. په دوی کښې رحمان بابا بل راز شاعـر دی او شعـرونه يې بل رنګ تاثير لري. پښـتانه هغه لسـان الغيب بولي، په ديوان يې فال نيسي، په شعر يې استشهاد کوي او د "بابا" په سـتر لقب يې نمانځي.

شعر پيژندونکي د رحمان بابا شـعر "سـهل ممتنع" ګڼي او ډيرو شاعرانو د هغه د ډيرو شعرونو اقتفـا کـــــړې ده.

د هــغه پر مزار، په ادبي غـونډو، راډيـوګانو او خـپرونو کښې،هر پسرلی د رحمان بابا کالیزې مشاعرې کـيږي. دغـه مشاعرې زياتره، د هغه د هـنر او شخصيت په يادونو او سـتاينو درنښت مومي او د هـغه د ځينو شعرونو په پيروئ ښـکلې کـيږي.

د رحمان بابا د شعرونو اقتفا او د هغو پر طرحو مشاعرې د پښتو ادبياتو د تاريخ د رحمان پيژندنې د فصل يوه په زړه پورې موضوع ده چې دلته مونږ هغه پريږدو او يواځې د رحمان بابا يو غزل او د هغه د اقتفا د لړۍ شعرونه وړاندې کوو.

دا کار معاصر لوی ادیب او شاعر مرحوم ګل پاچا الفت پيل کړی دی. يو وخت هغه د "روزګار" جريدې ته يو ليک، د رحمان بابا يو غزل او د هغه په پيروئ د محترم سيدشمس الدين مجـروح، ښاغلي امير حمـزه شـينواري او خپل شعرونه وليږل. دا "ادبي سوغات" د روزګار د جـريدې د ۱۳۵۰ هـ ش د ثور د ۱۵مې (د ۱۹۷۱ م د مـئی پنځمې) نيټې په ګڼه کښې خـپور شو. د همدې ورځې په مازيګر، ما د جـريدې دغه ګڼه واخيستله. په بله ورځ مې خپل شعر د جـريدې اداري ته وسـپاره چې په بله ګڼه کښې چاپ شو او بيا د هـيواد څو تنو تکړه شاعرانو پکښې برخه واخيستله.

ما هغه شعرونه راټول او ددې مجموعې د پای دوه شعـرونه مې پرې زيات کړل په دې ډول يوه ښـکلې رنګـينه ګلـــګيډۍ ترې جـوړه شوه.

اباسين

په دې شعرونو کښې سربيره پر هنري ادبي ارزښت د هغه وخت او چاپيريال د اجتماعي بهير انعکاس هم ليدل کيږي او د هر شاعر د فکر پلوشې هم ترې څرګندیږي. په دې ډول ارزيابيو کښې، زه خپل نا ارزه بيتونه شامل نه ګڼم. بلکه په دې خوښ يم چې د رحمان بابا مقام ته، د ارادت او اخلاص په مقام کښې، ماته هم د عالي مقامو استادانو د پيروئ ويار را په برخه شوی دی. په همدې خلوص د رحمان بابا د يادونو او مشاعرو ددې ښکلي ګلورين موسم په فضا او د سولې، مصالحې او روغې جوړې، ددې رنګين پسرلي د "ژوندون" په زمينه کښې دا ادبي سوغات ستاسو مخې ته ږدم. له شعرونو به يې هم خوند واخلئ او د مشاعرې له بهير نه به هم خبر شئ.

په درناوي

ستاسو خدمتګار عبدالله بختانی

د ۱۳۶۹ د ثور ۱۶ مه



اباسين

د الفت لیک

ښاغلي فرند[1] د روزګار مسئول مدیر صاحب!

هغه وخت چه ښاغلي مجروح صاحب[2] په متحده عربي جمهوریت[3] کښې د افغانستان سفیر و، ما ته یې د ادبي سوغات په توګه خپل یو شعر را واستاوه چه د رحمان بابا د دې شعر په پیروئ لیکل شوې و:

ډیر عمر مې تیر کړ ببهوده په زمانه
نور دې زما سر وي او د ترکو آستانه

دا شعر چه ما ته ورسیده، ما هم په دغه وزن او قافیه یو شعر ولیکه او هغه ته مې ولیږه.

کله چه حمزه صاحب، د غزل استاد، کابل ته راغې او دا دوه شعرونه یې ولیدل، هغه هم یو شعر ولیکه او په دغه مشاعره کې یې برخه واخسته. وړم کال[4] چه د پیښورمشهور شاعران او لیکونکي د افغانستان د استقلال جشن ته راغلل او د بیرته تګ په وخت کښې یې د خدای پامانئ دپاره په کابل کښې زما کور ته تشریف راوړ، دا شعرونه هلته ولوستل شوه او ښاغلي اجمل، مهدي او قلندر وعده وکړه چه په دې مشاعره کښې به ګډون وکړي او خپل شعرونه به را واستوي. ښایي چه د هغه ځای مصروفیتونو دا وعده هیره کړې وي ځکه د هغو اشعار را ونه رسیدل.

دا څو شعرونه چه ما سره دي، د روزګار جریدې ته د نشر دپاره در استوم. ګوندې د ادبي ذوق خاوندانو ته مقبول واقع شي.

په احترام
الفت

یادونې:

۱ – محمد یوسف فرند چه اصلاً د سره رود د شمسه پورو څخه دی. لوړ تحصیلات لري په دغه وخت کې یې د روزګار اوه نیزه بې طرفه جریده چلوله.

۲ – ښاغلي محترم سید شمس الدین مجروح د پښتو او دري دانشمند شاعر او لیکوال

۳ – مصر

۴ – ۱۳۴۸ هـ ش کال

اباسین

بېهوده عمر [1]

ډيـــر عـــمر مـــې تيـــر کـــړ بېـــهوده په زمانه
نـــــور دې زمـــا ســـــر وي او د ترکو آســـــتانه

هيڅ مې حاصل نه کـړه په شـــيخئ او په تقـــوا کښې
پس لـه دې مـــې وار دی هر څـه [2] شـــي په مـــيخانه

شـــيخ و شـــيخي ورد او [3] وظيـــفه او ذکـر فـکر
زه او ســـــاقي جـــــام وبـاده چـنگ وتـــــرانه

زه و زاهـــــدانـو تـــه حـــيران يـــم دوی و مـــا ته
ديـــوانه بـده خـــــــندد و ده به ديـــــــوانه

ګنـج د درو [4] ځار [5] شه د عاشـــق تر څاڅکي اوښـو [6]
نـــه خـــــروار د عقـــــل نـــه د عشـــق يـــوه دانه

تيـــــغ د يار له لاســـــه په مـــرئ د عـاشـــقانـــو
هســـــــې لـذت کـــا لکـــــه د ميـــــو پيمانـه [7]

خـــدای لـره بـه درشـم پـه سـودا د يـار لـه مـخه
بـــل مقصـــــود مـــې نشـــته په کعـــبه په بتخانه

زه لـــه ډيـــرې مـــــينې په تش بـــوی د يار شـيدا يم [8]
تـــل د لنـــدو خـــــتو اوبه لـــــــړ وی بهـانـه [9]

اباسين

څکـــه زاهـــد زهـــدکـاد يـــو جـــــنت دپـــاره
ســـــر ښـــندلـی نه شـــي پـه اوربـــل د جـانانه

ګـوره د منـصـور هسـي په دار[10] نـه شـي رحـــمانـه!
بـي نـــام و نشـــــان شـــه کـه يي غـــواړي نشـــانه

رحمان بابا

يادونې:

(۱) – د رحمان بابا دغه شعر له دغه عنوان سره چاپ شوی دی. ښايي چه الفت صاحب به دغه عنوان ورکړی وي. الفت صاحب پخپله شاعر او شعر پيژندونکي و. دا شعر يې هم په ډير دقت له کوم باوري متن څخه اخستی دی. سره ددې هم په ۱۳۵۹ هـ ش کښې، د پښتو ټولنې له خوا د رحمان بابا د ديوان له چاپ شوې نسخې سره ددې متن فرقونه ښودل کيږي.

(۲) – چاپي ديوان: چې

(۳) – چاپي ديوان: و

(۴) – د الفت صاحب نقل: عقل

دلته ما ته د تشبيه او د لف و نشر مرتب د صنعت له مخه د چاپي ديوان عبارت (درو غوره ښکاره شو، نو څکه مې په متن کښې واخيست. په دې صورت په اوله مصرع کښې د (درو) او (اوښکو) تشبيه څرګنده ده او د دوهمې مصرعې (خروار د عقل) د لومړۍ مصرعې (ګنج د درو) او د دوهمې مصرعې (دعشق يوه دانه) د لومړۍ مصرعې (د اوښکو څاڅکي) پورې ارتباط نيسي.

(۵) – په دواړو متنونو کې: راز

(۶) – چاپي ديوان: اوښکو

(۷) – چاپي ديوان: هسې لذت کاندي جوړ د ميو پيمانه

(۸) – چاپي ديوان: شوم

(۹) – چاپي ديوان: تل د لمدو څټو لړ اوبه دي بهانه

(۱۰) – اصل: وار. چه طبعاً طباعتي غلطي ده

(۱۱) – چاپي ديوان: بله نشانه

وګورئ:

د ذکر شوي ديوان ۱۷۱/۲ مخونه

اباسين

پښيمانه

سترګې مې دي وړې د زړه کور مې ويرانه
حلق مرۍ مې وچه غواړم ډکه پيمانه

ای ساقي باداره! زما لاس او ستا لمن ده نور
بيا به قدم کښې نه ږدم په بله آستانه

ځان مې خوشې سترې په لوستلو د کتاب کړ
هيڅ د حقيقت ور پکښې نه وه نشانه

لاړمه بازار ته چال چلند يې چل و ول و ټول
بحث و جنجال و هلته په سپک او په درانه

ورغلم وستل[1] ته د مشرانو هلته غونډه وه
زوړ شور او غوغا وه چه دا وکړو که دا نه؟

دا د سياست ميدان ميره خوشې سراب و
لاړمه په طمع د اوبو زه ديوانه

لاړمه مسجد ته مدرسې ته ور دننه شوم
هلته قيل و قال و په روا نه[2]

قول که عمل که فکر او خيال دی ټولنه کښې
هر څه کښې پرته د يوه د وهم زولانه

اباسين

کښې ناستمه کور کښې خپلخانې مې راته وویل:
ځه![3] دلته دې نشته نور نه آب او نه دانه

اوس مې پناه راوړه ستاسو سیمې ته، رندانو!
دا د هر چا کور دی، خرابات او میخانه

دا چې مې د درد علاج نه عقل نه تدبیر وکړ
ولې نو ځان خلاص ورځنې نه کړم مردانه

غواړم د مستئ ښکلې دنیا چه هلته نشته دی
چل فریب نه مکر نه ریا نه بهانه

مینه غواړم ساز غواړم سرود غواړم نڅا غواړم
ډکه خوله خندا او سترګې مستې جانانه

ما نیولی پیر رحمان امام د شاعرانو
وایم په حجره کښې د ده ښکلې ترانه

(ټول عمر مې تیر شو بیهوده په زمانه
نور دې زما سر وي او د ترکو آستانه)

سید شمس الدین مجروح

یادونې:

(۱) – وستل: د کلي مخې ته د خلکو د ټولیدو او جرګې ځای.

(۲) – ناروا

(۳) – په اصل کښې: زه

اباسین

رندانه نظر[1]

هر څه بل راز وينم بيا نظر شو رندانه
و مې ليده تشه دا د عقل پيمانه

ناوري څوک ناصحه! هغه تش نصيحتونه
ووايه شاعره! حقيقت بې باکانه

شيخ دې خپله ږيره کړي شانه د بل دپاره
ما دی زړه بايللی په اوربل د جانانه

چيرته سپينه ږيره چيرته ول ول توري زلفې؟
چيرته د بوډا تګ چيرته تګ خرامانه

نور څه تري نه غواړم محبت غواړم له ښکلو
ده ما ته کافي يوه خندا صادقانه

هر څه ورکول اهل ته ښه وي له نا اهله
تل لره نظر اهل نظر ته دوستانه

عقله! ته ما پريږده! ستا له لاسه ډير په تنګ يم
غواړمه ژوندون لږ څه آزاد شاعرانه

ښه مې په ځير ځير چه وکتل سياستونه
مکر و، فريب و، غولول ماهرانه

اباسين

وي به ډير ښه لال [۲] د سياست د ښامارخوله کښې
ورشه کـــه لـــرې مـــنتر افـسون ســـاحـــرانه

مـه غـــواړې لـه مـا نه ســـياسـي مـهارتـونـه
راغـــلمه پاک زړې ســـــياست نه بيـــــګانه

هـغـه چـه د وخـت حـاکـــم تـه وايـي زمـــامـدار
ځـانتـــه قـايلـــيږي په جلب او ګاوخـــــانه

کلـه آزاديـــږي د عـــمـرو اســير فـکـرونـه؟
خـــداى دې د چـــا نـه کـــړي ذهنيت [۳] غلامانه

وايـي غـــلامـــان په غـــلامئ باداران شـــوي
واوره د مـــحـــمـــود او ايـــازانـــو افســـانه

مـونـږ لا اســـيران يـو د خـانـانـو د پـيـرانـو
يـــو د مـــکر دام لـــرې او بـــل يـــي زولانـــه

ګـــرځـــوي پـه لاس کښې د تســبو دانـې مـدام
مـــه وايـــه چـــه دام د زاهـــــد نه لـــرې دانـــه

وږي يـــو بـــربنـــډ يو خـــواري ده زمونږ په برخه
برخـــه د ژوند تنـو عـــياشـي بې شـــرمـانـــه

نـه لـرې د جـــوار دانـې پـه کـور کښې دهـقانان
تـــل د آغـــا کـــور کښـــې د کـــباب پټـــه دانـــه

ډيـر خـلـک پـه بند کښې دي د لـــږو صـاحـبانو
خـان او بيـــګ لـــرې د طلســـمونو جـــيلخـانـه

اباسين

نه شي په چل ول له اسارته خلاصيدلی
يو اقدام پکار دی رندانه او مردانه

دا د خان نوکر که هر څه بد وايي الفت ته
غواړم له آزادو قضاوت آزادانه

گل پاچا الفت

يادونې:

(۱) – په روزګار کښې د حمزه صاحب شعر د مخه او ورپسې د الفت صاحب چاپ شوی دی. دا د الفت صاحب د تواضع نتيجه ده. هغه پخپله شعرونه دغسې ترتيب کړي وو. دلته د الفت صاحب شعر د مخه شو، ځکه چه د شعر د ايجاد د تاريخ له مخه دا يې حق دی.

(۲) – لعل، پښتانه (لال) بولي. دلته دغه معنا څرګنده ده د ښامار په خوله کښې لعل د پخوانو فولکلوري افسانو يو مضمون دی. لال، په فارسي کښې ګونګي ته هم وايي دا دې ته هم اشاره کيدی شي چه د هغه وخت د مسلط سياست ښامارانو زياتره په ژبه لال، يعنې ګونګي او تړتړي وو. سمه او څرګنده خبره يې نه کوله او په ساحرانه منتر او افسون غوندې خبرو به يې خلک تير ايستل.

(۳) – په اصل کښې: خدای دې چا نکړی ذهر نهيت. چه دا څرګنده طباعتي غلطي ده.

اباسين

غـــــــزل

ولـيـکه قـلـــمه! يـو غـــزل ښـــه جـــــانانه
پـــريـــږده چـه ويـــيـږي دا دوه ژبـــې زمـــــانه

مـيـنـه د زلـفـانـو بې له خاله (پښـــــيماني)[۲]شي
نـه ورتـلـه (تـش دام) [۳] تـه وي چـه نـه لـــري دانـه

پـورتـه شـه بيـان په افـسـانه کښې حقـيـقـت کـــړه!
بـيـا لـه حقـيـقـت نـه رانښـکاره کـــړه افـســـــانه

چـيـرته جـمـيـعـت چه پـريشـانـــي دې ده په برخه
ښـکلـــيـه جـــورړوم دې د کـمـخـــــيـو بـهـانـه

خـوی چـه د سـاقـي مې دريابي غـوندې ښـکاريږي
نـن مـې جـــورړ پـه کار شـوه لـغـزشـونـه مسـتانه

تـا چـه کـړه را وړانـدې مـا په نه زړه ورته لاس کړو
لاړه سـاقـي لاړه پـه دې مـــنـځ کـښـې پـيـمـانـه

حسـن هغـه يـو دی چه پـه هـر محـل کښې ښـکاري
ځـان چـه غـورځـوي پـه هـره شـمـعـه پـــروانـه

اباسين

يـا خـو دا خـپـل غـږ راته پـردې غـونـدي ښـکـاريږي
يـا مـې جـــــنـــون وکـــــړه ابـتـدا پـه ويـــــرانـه

شـيـخه ! د ربـښـتـيا ويـل پـه خـونـد بـه هـــله پـوه شـې
سـتـا چـه د حمـــــــزه غـونـدې مشرب شي رندانه

امير حمزه شينواری

يادونې:

(۱) — په روزګار کښې ددې شعر د عنوان پر ځای: "بې عنوانی" عنوان شوی او زه نه پوهيږم چه دا به چا کړی وي؟ خو دومره پوهيږم چه د پښتونخوا شاعران غزل ته عنوان نه ورکوی او که ورکړي نو بيا (غزل) ليکي. نو ځکه ما د (بی عنوانی) پر ځای (غزل) عنوان کړ.

(۲) – د ښاغلي مجروح د شعر عنوان (پښيمانه) ته اشاره ده.

(۳) – د روزګار د جريدې د ليکنې له مخه او د الفت صاحت د شعر عنوان (تش دام) و ، مګر اوسنې عنوان يې (رندانه نظر) دی، او د حمزه صاحب لومړني عنوان ته ده.

اباسين

د رحمان بابا په اقتفا
دالفت صاحب په مننه

تشــه تــرانه

چـاتـه چـه کعـــــبه وي د ســـــــتانـه او اسـانـــه
مـه غــواړئ هغـــــو ځنـــې خـــــبرې رنــدانـــه

ژبـه چه شـي غـــــوړه پـه اغـا! بلـــې! صـاحب بـاندې
نه شـي چـلـــــيدی بيـــا په ربنـــــتيا صـادقـــانه

غـــــله زمـــونږ د مـــال و د نامـــوس او د ابرو دلته
غـــــــواړي عـــزتـــونـه مـونږ نـه هم احـــمقانه

نـس ډکـوي دلـــته مـــګر زړه يـې امـريکـــې وړی
خـــدايه! لـه وطـــنه هيڅـــوک مه کـــړې بيـــګانه

څـــو پـــورې به نورو لـــره ګـــورو او پسخيږو مونږ؟
راشـــئ چـــه ودانـه کـــړو دا خـــپله ويـــرانه

دې مارړه هـيواد کښې به تر څـو پورې مـونږ وړې يـو ؟
وباسـئ د غـــلو لـــه جـــيبه پټـه خـــــــزانه

خـلک مـــو په کلـيو کښې ړنديږي د شړمبو پسې
غـواړي څـــوک په کـــومـو ســـــترګو ډکه پيمانه

عصـر د سـپورږمئ کښې لا سـپورږمئ مې په کـيږدئ ده
دا يـــو حـقـيـقـت دی نـه چـه هسـې افـــسانه

اباسين

نه کيږي هيڅږي په يو ګل پسرلي نه کيږي[1]
راشئ چه کړو جوړه له وطن نه ګلخانه

پير د زماني کښې څه توندي په توندئ راوله
عمر ضايع مه کړه بيهوده په زمانه

مينه غواړي، درد غواړي، عمل غواړي، ايثار غواړي
نه شي جوړيدی وطن په تشه ترانه

مينه غواړي، کار غواړي، کالي غواړي، ډوډئ غواړي
دا ده د اولس د ارماندونه نشانه

زر او سل خبرې سر يې يو: دا خلک کار غواړي[2]
خو - جوړه له سرکار شوه د خبرو کارخانه

څوک چه وي کاهل نو دا ملت به هم جاهل ګڼي
"ديوانه به ده خندد و ده به ديوانه"

څوچه خلک مست شي د وطن په محبت باندې
وليکه شعرونه بختانيه! مستانه

عبدالله بختانی

يادونې:

(۱) - په يو ګل نه پسرلی کيږي. (پښتو متل)
(۲) - سل خبرې سر يې يو ..... (پښتو متل)

اباسين

د ادبي سوغات په لړ کښې

زړګـــــــيه!

پـــــورتـه شـــه زړګـــيه غـــزل وايـه مســـــتانه!
ګـــډا کـــــوه! نخـــــاکـــــوه! ديـــوانه ديـوانـه

دلـــته هـوښـــياري، شعـــور، احساس څه حاصل نه لري
ځـه مســـتانـه ګـــرځـه پـه ويـــــرانه ويـــــرانـه

دتـــل ژونـــدون دپـــاره شـهامت او شـــجاعت وکـــــړه!
دحســـن پـه ډيـــوه بانـدې خـــپل ځـان کـــړه پـــــروانه

ژونـد د حـــــرکت او د خـــدمت حقـــيقـــي نـــوم دی
وســـــوزه پـــــــه اور بـــانـــدې د بتـــــو بتـــخانه

ســتا پـه مـال دولـت بـانـدې نـور ځـوانـان مسـتـي کـــوي
پـاځـــه ورشـــه وګـــوره د مـــــــــيو ميـــخانـه

پـه مـــړو مـــړو کـــتلو کښـــې د غـــم نه بل څه نشـــته دی
ځـه سـاقـي نـه واخـله د ســـــرو ســـــترګـو پيـــــمانه

مســـت شـه پـه مســـتئ کښـــې په رقيب باندې حمله وکړه!
ځـان ورځـــينې خـــلاص کـــــړه د نيشـــــې پـه بهـانـه

لاړ شـــه خـــــرابات تـه لـه رنـدانـو ســـره يـوځـای شـه
مـــاتـــې کـــــــــړه پښـــــو نـه دې د طـمـــعـې زولانه

اباسين

ځه لـــکه انســـان غـــوندې له خـــلکو سره انس وکړه!
پـريـږده چـه زاهـــد لـه خـــلکو ناست وي بيـــګانه

شـيخ چـه د خـــپل مـيخ د کلـــکولو دم دعـا کـــوی
تـه هـم خـپل ســـر کښـــيږده د مـــيخـور پـــه استانه

دنيـا پـه حـقيقت کښې آزاد ژونـد تـه پيـــدا شـــوېده
ژونـد د انســـان خـــوند کـــړي پـه ربنـــتيا ازادانه

دوره د ژونـدانـــه خـــو پـــه هـــر قسـم تيـريدونکې ده
ښـه ژونـــدون هغـه دی چـه يـې کـړې عـــاقـلانـه

تـا کـــه پـــه (مســتئ) کـښـې د عـــزت دپـاره کار کـــړل
اوس بـــه درنـــه جـــــــوړه وه د درو دردانـــه

ويـــارمـــه چـه تـــه هـم د مســـتانو ســـره يـار شـوې
پـه ګـــډ اواز بـــه وايـــو د غـمـــونـــو تـــرانـــه

چـــل ول او غـــولـــولـــو تـــه رقيب چـــه ســـياست وايي
پـــه خـــپله يـــې خـــپل ځـــان کـــړ د غـــنمو سياه دانه

ګفـــتار دې پـــه يـــو رنګ (دی او) کـــردار دې پـه بـــل رنګ
اخـــر بـــه غـــوبـــل جـــوړ کـــړي دا دوه رنګې زمـــانـــه

باور وايـــي مـــلګـــرو د ژونـــدون ښـــکلا خـــو فکـــر دی
راځـــئ چـــه اول رنګـــه کـــړو د فـــکر جـــيلخـــانـه

سـيدرحمان باور رحـيمي
روزګار جريده، ۳۱مه ګڼه، د ۱۳۵۰ د ثور ۲۹ مه

اباسين

آب و دانــه

واوښـــــتې [1] پيـــــړۍ شـــــوه رانه تيـــره زمـــانـــه
نښـــــتی يـــم د تمـــــې د دامـــــونـو پـــه دانـــــه

نـــه مـــې متمـــې کار کـــــړي نـه مـې لاس د عقـــل رسي
هســـــې رنګ افســـــون دی هســـــې شـــــانې زولانه

ژونـــــد راپـــورې خـــاندي زلمـــيتوب راته ويـرونه کړي
څکـــــم د زړګـــــي وينـــــې پيـــــمانه په پيـــــمانه

اه زمـــا قســـمته چـــه دا څـــــه رنګـــــې بلا يې تـــه
نـــه مـــــتاع د ديـــن شـــوم نـه د دهـر فـــــرزانه

هيـڅ مـــې حاصـــل نه کـــړو په دې ډيـــرو خوشامندو کښې
داغ مـــې د تنـــــدي شـــــو ذهـــنيت غـــــلامانه

اب مـــې د مـــخ ويـــړلـــو يـــــوې خـــــيتې دپاره
اور دې پـــه نصـــيب شـــــــي او پـــه دې اب و دانـــه

ډيـــــر يـــم غـــولـــولـــې دی ژونـــديـــو زيـارتونو زه
نـــــوره مـــې تـــــوبه شـــه له خـــانقا او اســـتانه

چـــاتـــه عـــرض وکـــړمه او چـــاته ګـــريوان څـــيرې کړم؟
يـــومـــې غـــوښـې غـــواړي بـــل هـــډوکـــي شـــکرانه

لاس راکـــــړه ای پـــــلاره د وخـــــتونو د نجـــات په نوم
ســـيند يمـــه اخســـــتی تـــوفـــانـونـو مـــــــــرګانه

اباسين

نـــور غـــمونـه څـه کـــړې؟ مـا ســره غـم ددې خـبرې دی:
مـــري د ننـــګ غـــيرت د جـــوشـــه ډکـــه تـــرانه

زړه تـه رانـــژدې شـــه چـه د زړه پـــه غـــورږو واورې څـه
دا خـــبرې نـــه شـــي په نـــاول او افـــســانـــه

بخـــت مې د ســـيزلو او تنـــدی مې د داغـــلو دی
نـــور مـــې د ځـــان نـــه کـــړه رانـه خپل شـــو بيګانه

نـه هغه خمـــار شـــته نه غـــرور په ســر کښې پاته دی
نـه هغه ســاقـي شـــــته نـه بـــاده او ميـــــخانه

زه او زړه ســـره پـــاته په حـــيرانه حيرانئ کښې يو
ديـــوانه بـــه ده خـــــــندد و ده به ديـــوانه

ګـــوره ســـيندنيه! خـــپله خـــوله درته بلا نه شي
مکـــړه دا د ژونـــد خـــبرې هـــسې رنـــدانه

ســـيندنی
روزګار جريده، ۳۲مه ګڼه د ۱۳۵۰ د جوزا پنځمه

يادونه:

(۱) - په اصل کښې: راوختې

اباسين

زما ترانه

نه تیروم عمر بیهوده په زمانه
نه کومه زه د لیونو غوندې کانه

درومه نامراده ساقي وچې شوندې نبه یمه
مه نبوروه ماته کوزې او پیمانه

زه چه لا د څښلو گوټ اوبه گړي کې نه لرم
شم په کومو سترگو به دیره په میخانه

بې د یار د وروځو له محرابه به هیڅکله
هسک سر نبکته نه کړمه په بله استانه

نن چه د هوښیارو گریوانونه ریتې پیتې شول
پوه په دغه راز و له پخوا نه دیوانه

زه به زمانې ستا د سیلاب لوری بدل کړمه
ما ته هم پنبتون وایي که ته یې زمانه

څو چه ددې خپلې پنجرې هر څه گډ او وډ نه کړم
وبه نه خورم نوره د ژوندون آب و دانه

زه به یې د خپلو ارادو نه نظر ماتی کړم
څه که اوس د چا سر وته زه شوم نذرانه

اباسین

ستا په باده مست نه يم ساقيه! نه دې منت وړمه
زه يم د ازل په مېو هسې مستانه

ماصياده! ستادتګئ لومې نېسې ليدلي دي
ځه! بل خوا اوار کړه د فريب دام و دانه

زه قفس د مينې که په ساز نور سوزوی نه شم
خاورې او ايرې به کړمه خپله اشيانه

نوک او ورئ به بيلې څنګه څوک د يو وجود کاندي
څومره نېه په ځای ده دا خبره اميانه[1]

هرڅوک بدلولې په تدبير سره تقدير شي خپل
څوک چه وايي نه! ده يوه خوشې بهانه

زه په زړه د عمر[2] ډير داغونه اتشين لرم
څه به کړم خندا خماري سترګې جانانه

څنګه به د مخ رنا په زلفو رانه پټه کړي
زه په دغه فن کښې يم استاد د پروانه

ډيره تړې نېوروا د خپلو مټو په محنت نېه ده
زار خوړلی نېه دی نه د نورو پسمانه

زه چه د خپل فکر په ازادو وزرو الوزم
ما شکولې وخته دا د تمې زولانه

اباسين

مـــا تـــه کـــه "مـــرګ" وایـــې هـــم پـــه نـــره ژبـــه یـــې ووایـــه
خـــدایـــږو کـــه مـــې خـــوښ شـــي دا خـــویـــونـــه زنـــانـــه[۳]

کلـــه څـــوک د دار پـــه ســـر د حـــق نـــاره کـــولـــې شـــي
خـــوښ مـــې د مـــنصـــور دغـــه صفت شـــو مـــردانه

زه دعشـــق پـــه لاره کښـــې لـــه خـــپله ســـره تیر یمه
پـــوچ پـــروا مـــې نشـــته دی پـــه خـــیل او خـــیلخـــانـــه

تـــا کـــه د خـــپل مـــلک[۴] د خـــزانو ســـحر مات کـــړې وای
وه بـــه پـــه قـــدم قـــدم کښـــې ګـــنـــج او خـــزانـــه

زه مـــجـــنون د قـــام او د وطـــن یـــم د لـــیلا نـــه یـم
کـــړم بـــه پـــه جـــنت بـــدلـــه دغـــه ویـــرانه

راشـــه! پـــه خـــیر راغلې! ښـــه چـــه مل د لـــیونو شـــولې
دلـــته مـــونـــږ کښـــې نشـــته څـــوک د مـــینې بېـــګانه

پـــورتـــه شـــه! اوچـــت شـــه! پـــه هـــمت د کهکشان په لور
مـــه لـــتـــوه خـــاوره کـــښـــې د ســـتورو ننبـــانـــه

جـــوړ بـــه د اســـمان ســـپـــږمی امـــیل ورنـــه د غـــارې کـــړې
څـــوک کـــه ورتـــه یـــوســـې زمـــا دغـــه تـــرانـــه

نصـــرالله حـــافظ

یـــادونـــې:
د شعر ماخذ: نصـــرالله حـــافظ، د شمشـــاد له هسکې څوکې، کابل، ۱۳۶۲ هـ ش، ۸۶/۹ مخونه.

اباسین

په دې ماخذ کښې تر عنوان وروسته لیکل شوي دي: "دا شعر مې د رحمان بابا د یو مشهور شعر په اقتفا لیکلې دې چه وایي

ډیر عمر مې تیر کړ بیهوده په زمانه
نور دې زما سر وي او د ترکو استانه

ما یو وخت له حافظ صیب نه پوښتنه کړې وه چه ایا هغه د رحمان بابا د دې شعر پیروي کړې ده؟ هغه راته ویلي وو چه "هو! ما د مجروح صاحب او الفت صاحب د شعرونو د اوریدو نه وروسته په دې لړ کښې شعر لیکلې او هغه وخت ما دغه شعر د "زیري" جریدې ته ورکړ او هلته چاپ شو. او د" شمساد له هسکې څوکې" په مجموعه کښې هم شته"

کله چې ما د زیري د ۱۳۵۱ هـ ش کال د کلیکسیون د میزان د ۲۶ مې نیټې په ۳۱ مه ګڼه کښې دغه قصیده وموندله نو دواړه مې سره پرتله کړه او دا توپیرونه پکښې څرګند شو.

(۱) دې بیت پسې په زیري کښې دا بیت هم شته

خدایږو که به رپ قدرې له ځایه څخه ووهي
دا مړ اس کـه ووهـي هـر څـو پـه تـازیـانه

(۲) په زیري کښې: د هجر

(۳) په زیري کښې: طفلانه

(۴) په زیري کښې: (دخپل ملک) پرځای (دوطن) او په دوهمه مصرع کښې د (وه به په قدم قدم.....) پر ځای (اوس به د قدم قدم.....)

اباسین

د جبلخانې خوب

خوب وینم عالمه! که یې څوک راکړي مانه[1]
پروت یم سر مې ایښې د خپل یار په زنګانه

خوب وینم چه پورته په هوا لکه د باز شومه
کښېناستم په بام د محمود سترګې د ایاز شومه
پورته د خاموش زړګي نه خوږ د مینې ساز شومه
خرڅه مې په حورو کړه د ډمو زمانه

خوب وینم چه ناست یم د جیندي[2] په یخه غاړه
شاه مې سویلو کښې لکه سره شمعه ولاړه
سرې شونډې موسکئ شوه ماتی[3] وې چه ژاړه ژاړه!
څکه دې د زړه وینې دا شراب دي مستانه

خوب وینم چه باغ دی د ګلونو او مانښام دی
سرې سترګې ساقي د ساقي سرو ګوتو کښې جام دی
لاس په سیتار پروت لېونی مست لکه خیام دی
اړئ[4] پرې نړئ د مینې افسانه

اباسین

خوب وینم چه سپینه سپوږمۍ پاس په خندا راغلله
ماله محبوبا په شرم شرم تر خوا راغلله
شونډو کښې شراب او په کوکئ کښې قضا راغلله
سور خمار یې راکړ پیمانه په پیمانه

خوب وینم چه پټ شوم په نسیم کښې بهر لاړمه
خوا له دجانان لکه د مینې نظر لاړمه
سترګو د دلدار له لکه خوب د سحر[۵] لاړمه
یو شرنګ کښې مې لوټ کړه د غمونو خزانه

خوب وینم چه زه لکه لولکه په سیل ووتم
پورته د نرګس نه شوم په خوا د رامبیل ووتم
تاو د سپینې غاړې د لیلا په امیل ووتم
پټ مې ورته ووې سلامونه جانانه

خوب وینم چه پورته لکه چیغه د منصور شومه
یا یو موتې خاوره وم یا لوی دریاب د نور شومه
خو بانګ د سحر وشو زه را ویښ شوم کر و کور شومه
خوب یوړل خوبونه را ژوندئ شوه زمانه
وې: پریوزه لېونیه! تېروه دې جېلخانه![۶]

عبدالغني خان
حیدراباد جیل – ۱۹۴۸ م

اباسین

یادونې:

(۱) مانه – مانا، معنا، معنی – زما په ماخذ کښې معنی

(۲) جیندي – د هشنغر د مینځ هغه سیند دی چه ددې علاقې اته واړه کلي یې په غاړه پراته دي.

(۳) تی – ته یې.

(۴) اړئ – اړوي.

(۵) زما په ماخذ کښې صحرا

(۶) د شعر ماخذ د غني خان کلیات، کابل، ۱۳۶۴ هـ ش، ۱۹۸۵ م – ۴۷۳ م مخ

دا شعر د (ادبي سوغات) د مشاعرې نه د مخه ویل شوی دی په وزن او قافیه کښې د رحمان بابا د شعر پیروي پکښې شوې ده، مګر په لږ توپیر. داسې چه د رحمان بابا شعر د غزل په فورم کښې دی او د غني خان شعر چهاربیته ده. په پیرویو، اقتفاګانو او مشاعرو کښې دا کار جایز دود دی، نو ځکه مونږ دلته را واخیست.

دا چهاربیته د لرې او برې پښتونخوا په خپرونو کښې بیا بیا خپره شوې او سندرغاړو هم بیا بیا اورولې ده.

اباسین

غـــــزل

هـــر څـــو کـــه مـــې وازمـــايـــي دا ســـــتا په يارانه
اف د شـــکايت بـــــه مـــــې وانـــــــه وري زمانه

زه دا ســـــتا د مســـــتو ســـــترګو هـغه خـــمار نه يمه
کـــوم چـــې يـــې چـــاره کـــولـــــی نـــه شـــي پيمانه

په ښـــپو کښې مې پـــرتې دا ســـتا د ميـنې زولنې دي
دا چـــه لـــښونـــی يـــم نـــه يـــم ســـر پـــه ويـــرانه

څـــوک چـــه خپل ټول ژوند يوې شـــبې رنا ته بخښي
زه يـــــم ســـــتا د مـــــخ شمعې ته هـــــغه پـــــروانه

حـــور، غـــلـــمان او واړه جـــنتونه دې د شـــــيخ وي
زمـــا دې يـــو پـــوزی ځـــای ســـتا پـــه ښکلې استانه

دا چـــه مـــې ښـــکلا ســـره کلام دی پېيل شـــوی
دی ســـــتا د جـــــمال تفســـــير مې هـــــره تـــــرانه

ورکـــړه چـــه کمـــين د زړه دردونـــه پرې تسـکين کړي
خـــپل د لاس دســـــمال ورتـــــه د مـــــينې نشـــــانه

برکت الله کمين
دښاغلي برکت الله کمين د شعرونو له خطي مجموعې څخه، په مننه

اباسين

د سرمحقق خدمتګار
له خوا
چاپ ته تیار متنونه

۱ – د باچا خان لیکونه – دوهم ټوک
۲ – تازه ګلونه – د ۱۱۲ اوسنیو شاعرانو د ۴۸۴ شعرونو انتخابي مجموعه
۳ – دیوان قاسم قاسمي چهارباغي (په فارسي ژبه)
۴ – د نعیم جان سندرې
۵ – د بیاض دیوان
۶ – د احمدګل شاعري
۷ – د وړو لوبې – د بینا صاحب لیکنه

اباسین

د رحمان بابا د شعر په اقتفاکې

غـــــــــــزل

آ چې خـرځـول يـې شـــورنخـود او ګـــــندنه
اوس يـــې د وطـــن په ســـر اخيســـتې بيـانـه

لا خـو مـات بنـګړي دې د روسيې په غـېږ کې وينمه
ولـې دې بـدلـــه دومـــره ژر کـــړه يـارانـه؟

څـنګه پـــه هغـــې ژبـــې خـــبرې د حـيا وکـــړو
نشـــته چـــې تـــوپيـــر پکـــې دنـــر او زنـــانـــه

غـــوارم دانـــه دار ســـړي له تا ځـــنې وطـــن لـره
نـه غـــوارم کـــــندهاره! ســـتا انـارې بېـــــدانه

ولـې راتـه خـپل وطـــن پـردې پـردې ښـکاريږي نن
زه شـــوم بېـــګانـــه او کـه دا خـلک بېـــــګانه

مـونـږ خـو د مـنو غـــله هم پـه تـوره شـپه کې پېژنو
يـار خـــو لا پـه بـــډه وهـــي غـــټه هـــــندوانـه

مـونـږ خـو تـرې امـــيد د لـوړ پـرواز او تـرقۍ کاوه
خـــو! دې زړې ابـۍ مـو پـه بـاز څـه وکـــړه کانه

تـه هـم ځـه صـــحرا تـه لـــېونيـه د حفيـظ په شـان
غـــوارې کـه عفت دې د شـــــلېـدلي ګـــــريوانه

ح.ن پيرزاده
سويډن - ستوکهولم، اګست ۲۰۰۴

Download from:aghalibrary

اباسين